# زېری

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده    د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

دوشنبه، (۱۱- ۱۲مه) ګڼه، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۳۵۵- ۳۵٦مه) ګڼه، د ۱۳۹۹ل.کال د سنبلې (وږي) د مياشتې ۳۱مه، د ۱۴۴۲هـ.ق. کال، د صفرالمظفر د مياشتې ۳مه او د ۲۰۲۰ز.کال، د سپټمبر ۲۱مه.


کلی وران و خو باقي يې لا آثار و
يو مرغه په دېوال ناست دا يې ګفتار و
دغه زوړ دېوال چې ګوري په يو وخت کې
جوړوونکی د کورونو پوخ معمار و

ګل پاچا الفت

## د ناګار شاعري؛ د اسلامي تاريخ يو باب

**(د علامه اقبال او استاد ناګار د شاعرۍ ځينې ګډ اړخونه)**



**يونس تنوير**

د استاد ناګار شاعري د اسلامي تاريخ، يو لوی باب په ډېره هنري توګه را انځور کړی دی. د جهاد د مستانه جذبو يوه لويه انځورګري لري؛ يعنې د اسلام له پيله ان تر نننۍ عصره يې د ولولو ډکې خاکې را اخيستې دي.

دا خاکې د اسلامي تاريخ بابونه دي، ژبه يې د لاهوتي ترانو پوره نقاشي لري، شعري نظمونه يې د اسلامي تاريخ ډېر ثرګند شخصيتونه را اخيستې دي؛ ځکه ژبه يې پوره مکاشفې ته ورته ده.

د نظمونو تر ټولو بارزه خوا په دې کې ده چې د خپل اسلامي دور د ځينو داسو شخصيتونو يادونه لري، چې پوره جمالياتي، انقلابي او د اسلامي اخوت پلوني دي او د هېواد په باب يې ډېر نادره عکاسي کړې ده.

دا ډول شاعري دمخه په ختيځ کې علامه اقبال هم کړې وه چې تر ډېره د نړيوالې اسلامي نظريې پلوني او هېوادپال شاعر ګڼل کېږي. د ژبې په فطري کېدو کې استاد ناګار ډېر عالي دی؛ موږ د اشخاصو پرتلنه نه کوو، ولې د علامه اقبال په څېر يو لوی مشال، خدای تعالی(ج) په افغاني ټولنې هم پيرزو کړی دی، خو دا زموږ له علم سره نه ترون دی، چې لا تر اوسه استاد ناګار د افغاني ټولنې له سترګو پټ پاتې او شاعري يې د زده کوونکو تر غوږونو پوره نه ده رسېدلې.

مرحوم راحت زاخيلي، حمزه بابا، سيدتسنيم الحق کاکا خېل، عبدالحليم اثر د علامه اقبال د څلورو ټولګو څخه لږ و زيات شعرونه پښتو ته را ژباړلي دي. دا شعرونه د (اقبال پيغام) تر نامه لاندې احمد صميم را ټول او انتخاب کړي دي.

سره له دې چې د ژباړې ژبه، په شعر او شاعرۍ کې هومره فطري نه وي؛ ولې د مضمون اډانه ترې کېدای شي. له دغو شعرونو څخه ښکاري چې علامه اقبال د پوره مؤمن په توګه په شعر او شاعرۍ کې پاتې شوی دی؛ يعنې تر کومه چې په نړيواله سطحه اسلامي نظريه ده، هغه په



ناوېشلي هند کې علامه اقبال را اخيستې ده. او په افغانستان کې د ښاغلي ناګار د شعر يو بنسټيز مضمون دی. ولې تر کومه چې د ژبې او لهجې فطري والی دی، هغه تر ډېره د ناګار د شعر خاصه ده. څرنګه چې د علامه اقبال د ژبې په فطري والی دا نقد او کره کتنه د لومړي ځل لپاره ايرانيانو کړې وه. ما د ځينو اقبال پېژندونکو مقالې او بحثونه لوستي او اورېدلي دي. په دوی کې د ايراني کره‌کتونکو تفکر دا دی چې د علامه اقبال د ژبې طرز هومره فطري نه دی. ولې تر ډېره دا نظريه درسته نه ښکاري.

د استاد ناګار د ژبې طرز بيا ډېر فطري او عالي دی. زموږ موخه دا ده چې د استاد ناګار او علامه اقبال شعري مضامين د اسلامي قلمرو وړونکي دي؛ يعنې دا دوه شاعران د اسلامي نظريې د وړاندې کولو شاعران دي. علامه اقبال چې د حضرت بلال سره کوم تړلی تاريخي روايت زموږ سترګو ته دروي؛ استاد ناګار د هغه د مسلمانۍ يو بل کيفيت را انځور کړی دی. ۳مخ

## د دردونو شاعره

**(الفت بېګم درد)**

**څېړنپوه ظاهره هنګامه**

د معاصرې دورې له تکړه شاعرانو څخه يوه هم الفت بېګم درد ده چې په ۱۹۲۵م کال د فبرورۍ په يوولسمه نېټه د صوابۍ تحصيلي په ښار کې د فردوس خان کره يې دې نړۍ ته سترګې پرانيستې دي.

دغه دردېدلې شاعره نوې د ژوند په خوند پوه شوې وه چې مور او پلار يې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې، کله چې يې مور او پلار په حق ورسېدل، نو د کور ستونزې د خويندو او وروڼو روزنه، پالنه او د کور مسؤليت هم ور تر غاړې شو.

يو مهم او عمده علت چې د دې په شعر او شاعرۍ کې سوز، درد، ګداز او احساس رامنځته کوي، همدغه د مور او پلار مرګ دی؛ لکه چې په خپل يو شعر کې وايي:

**رڼا څه کړم په تيارو کې آموخته يم**
**مقدر زما وفات د مور او پلار دی**
(۲: ۸۱مخ)

آغلې درد د دردېدلي ژوند په اوږدو کې دوه شعري ټولګې ليکلې دي چې يوه يې ((د زمانې ټکرې)) او بله يې ((حيات درد)) نومېږي چې دواړه ټولګې يې چاپ او خپرې شوې دي. شاعره د خپلې شعري ټولګې «حيات درد» په سريزه کې د خپل درد په اړه ليکي چې زما شعري ټولګې «د زمانې ټکرې)) او «حيات درد)) کې ما يواځې خپل غمونه ليکلي دي او داسې غمجن اشعار دي چې د ډېرو دردېدلو زړونو ترجماني کولی شي.

دغه د دردونو او غمونو شاعره په دردونو کې زېږېدلې ده او په دردونو او غمونو کې يې خپل نيمګړی ژوند تېر کړی دی او په دردونو او کړاوونو کې يې له دې نيمګړې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او په ابدي خوب ويده شوې ده.(۱: ۱۵۱مخ)

د بېګم درد شاعري په حقيقت کې د دردېدلي زړه، د زخمي احساساتو او جذباتو شاعري ده، يو ځای د خپل ژوند د غمونو او دردونو احوال د زړه په وينو داسې ليکي:

**نن ديدن د درد په غېږو سترګو وکړئ**
**يوه شمعه ده تر مرګه سوزېدلې**

يا دغه بېلګه:

**اوږدې شپې تېرې شي خوب را له رانه شي**
**خدايه! څه مې پېښه ګرانه ده بدن ته**
**يو درد ختم نه وي بل کړي سر را پورته**
**خدايه! را نه ولې داسې مې دښمن ته**
(۲: ۱۰۵مخ)

بېګم درد زمانې هم ځورولې ده. د زمانې له لاسه په تنګه شوې د زمانې او روزګار له لاسه، خو هر شاعر ژړا کوي او ژړېدلي دي، خو د درد ژړا بېل تاثير او اغېز لري.

**زمانې هلته به ځمه چې ته نه يې**
**ستا د لاسه يمه ډېره ژړېدلې**
**زمانې څه مې بد درسره کړي**
**ستا د لاسه مې تل اوښکې بهېدلې**
(۲: ۱۰۰مخ)

يو ځای او يو منزل ته رسېدل هم نصيبونه او قسمتونه غواړي، تر څو چې خدای (ج) ونه غواړي هيڅوک خپل هدف او مقصد ته نه رسېږي درد هم دغه منزل ته درسېدو په خاطر داسې وايي ۳مخ

## آرياني ژبې



**څېړنيار حمايت الله ښاد**

کله چې ويليام جونز په اتلسمه زېږدېزه پېړۍ کې د سانسکريت، يوناني او لاتيني ژبو په اړه پلټنې وکړې او دغه ډله ژبې يې له يوې مورنۍ ژبې څخه راوتلې وګڼلې؛ نو وروسته ژبپوهانو د نړۍ د ژبو د اړيکو په برخه کې څېړنې پيل کړې. د دغو څېړنو پر مټ د نړۍ ژبې لومړی ژبپوهانو د خپلمنځي اړيکو او نورو شباهتونو له مخې په ژبکورنيو او بيا يې هره ژبکورنۍ په ژبښاخ او ژبڅانګې او په پايله کې په بېلابېلو ژبو ووېشلې.

په دې لړ کې د نړۍ ژبکورنيو کې اندو آروپايي تر ټولو مشهوره کورنۍ ده، دغه کورنۍ بيا په بېلابېلو ژبښاخونو(ګروپونو) وېشل شوې چې يو ښاخ يې اريک دی. اريک ژبښاخ بيا په بېلابېلو ژبڅانګو وېشل شوی چې آرياني څانګه يې مهمه څانګه تشکيلوي.

آرياني ژبې د آريايانو د پښت ژبې دي چې ژبپوهانو او څېړونکو په بېلابېلو نومونو(ايراني، آريايي او آرياني) يادې کړې دي او له لوستونکو يې لاره ورکه کړې ده. دلته لومړی په بېلابېلو آثارو کې د دې ډله ژبو په اړه پلټنه کوو.

د (افغانستان ژبې او توکمونه) کتاب ليکوال لومړی اندو اريايي ژبې په درېوو ګروپونو (هندي، آريايي، داردي) وېشي او وايي چې د افغانستان ډېرې ژبې له آريايي ګروپه دي، د آريايي ګروپه يې موخه همدغه آرياني ژبې دي، بيا يې د دغه ګروپ ژبې د تاريخي مرحلې له مخې پر لرغونو، منځنيو او معاصرو ژبو وېشلې او په دغو مرحلو کې راغلې ژبې يې روښانه کړې دي. (۲: ۱ ـ ۲ مخونه)

د آريانا دايرة المعارف په لومړي ټوک کې هم د آرياني ډله ژبو ترڅنګ د ايراني معادله اصطلاح کارول شوې ده او دا په کې نه ده په ډاګه شوې چې ايراني اصطلاح د دغه ډلو ژبو لپاره چا او څه وخت کارولې ده؟ آيا اوس د دغې اصطلاح کارول سم دي؟ او که همدغسې آرياني او ايراني د يو بل معادل اصطلاحات وګڼو. په دايرة المعارف کې ليکل شوي: ((آرياني ژبې چې کله ورته ايراني ژبې هم ويل کېږي، يوه ډله ژبې دي چې اره او سته يې يوې واحدې ژبې يعنې لرغونې آرياني ژبې ته رسېږي، لرغونې آرياني ژبه د لرغونو هندي آريايانو له ژبې سره يو ځای د اندو اروپايي ژبو ختيځه څانګه چې آريک ورته ويل کېږي...)) (۱: ۲۸ مخ)

په يو بل اثر کې د پورته په څېر بحث راغلی او آرياني ژبې له آريايي ژبو سره هم‌معنا کارېدلې دي، يعنې د ژبو دغه دواړه ګروپونه سره ورته او يو شی ګڼل شوي دي، په دغه اثر کې راځي: ((آرياني(ارياپي) ژبې چې کله ورته ايراني ژبې هم ويل کېږي، يوه ډله ژبې دي چې آره او سته يې يوې واحدې ژبې يعنې لرغونې آرياني ژبو ته رسېږي.))( ۳: ۹۲ مخ) دغه ډله ژبې يې د دايرة المعارف په څېر په درېوو مهالي دورو وېشلې دي.

د تاريخي او مقايسوي ژبپوهنې آثر ليکوال ليکي: »د اندو آريايي قبايلو لومړنی ټاټوبی بلخ او د هندوکش شاوخوا سيمې دي، له دغه ځايه لومړی هندي آريايي قبايلو د ختيځ خوا ته او ورپسې ايراني آريايي قبايلو څه موده وروسته د لوېديځ خواته لېږدېدنه کړې ده چې له دغه ځايه بيا آريايي قبايل په څلور ډلو(هندي، ايراني، باختري او داردي) ووېشل شول. څرنګه چې هندي آريايان نسبت ايراني آريايانو ته څو پېړۍ پخوا کډه شوي ول او آيراني قبايل څو پېړۍ نور هم په باختر کې پاتې شوي وو، نو ځکه د باختري ګروپ ژبو خپلوي د هندي ژبو په پرتله له ايراني او داردي ژبو سره ډېره ده. همدا لامل دی چې ژبپوهان دغه درې ګروپه کله- کله د آريايي ژبو په نامه او څلور واړه بيا د آندو آريايي په نامه سره يادوي. آما ځينې څېړونکي باختري آريايي او پېرسيک آريايي ژبې د ايراني ګروپ ژبو په نامه يادوي.(۴: ۱۰٦ مخ)

که څه هم دلته ليکوال ځينې خبرې سپينېدو ته نږدې کړې دي؛ خو پوره حل او سپينې لا نه دي، دا جوته خبره ده چې آريايان لومړی په يو ټاټوبي کې اوسېدل او وروسته سره ووېشل شول، د لوېديځ او ختيځ څنډې يې ونيوې او له خپل آر ټاټوبي لرې دېره شول. له دغو مهاجرتونو سره د دوی ژبې له يو بله لرې شوې او له دغې يوې يوې ژبې دومره ژبې وزېږېدې چې څېړونکي او ژبپوهان يې اوسمهال ځانګړی ګروپ او ډله ګڼي. په پاسنې نظر کې ليکوال(باختري، ايراني او داردي) چې په خپلو کې سره نږدې پاتې شوې ژبې دي، په آريايي څانګه کې شاملې ګڼي؛ خو که هندي ژبې ورسره يو ځای کېږي بيا د آندو آريايي اصطلاح ورته غوره ګڼي، همدارنګه د ځينو څېړونکو په باور باختري او پارسيک ژبې د ايراني ژبو په کتار کې دروي. لنډه دا چې بيا هم لوستونکي د آريايي او ايراني ژبو لپاره د ګډ او يو ډول اصطلاح سره مخامخېږي او په زده کولو کې يې سرګردانه کېږي.

له پورته بحث څخه دې پايلې ته رسېږو چې لومړی به غوره دا وي چې موږ د آرياني ژبو د اصطلاح په مخينه وغږېږو او له دغه ځايه دا څرګنده کړو چې دغه ډله ژبې لومړی د چا له خوا او په کومو نومونو يادې شوې دي او بيا تر ټولو غوره اصطلاح او نومونه يې کومه کېدای شي؟

لومړی که موږ ورته آريايي ژبې کاروو، نو بيا په آرياني ژبو کې د آريايانو د ټبر نورې ژبې يعنې هندي هم راځي چې د اوسنيو آرياني ژبو څخه يو څه لرې دي. هندي ژبې د آريک ژبې جلا ګروپ دی، همدارنګه داردي ډله ژبې هم د آرياني ژبو له کلا وځي او په آرياني ډله ژبو کې نه راځي، نو غوره به دا وي چې يوازې د آرياني ژبو يا آرياني څانګې اصطلاح ورته وکاروو او د دغې اصطلاح تر ټولو غوره دليل دا دی چې دغه ډله ژبې د لرغوني آريانا په مرکزي او شاوخوا سيمو کې ويل کېږي.

آرياني ژبې د لوېديځوالو په څېړنو کې د ايراني(Iranian) ژبو په نوم يادې شوې دي، آرياني ژبې له يوې آرې منشا څخه زېږېدلې دي، د دغو ژبو ترمنځ لغوي ورته والی او د ګرامري اصولو يوشانوالی د ژبنيو اړيکو روښانه دليل ګڼل کېږي. آرياني ژبې د (اندو اروپايي ژبو نَسبي څېړنه) اثر کې ښې سپړل شوې دي او په دغه څانګه کې پر شاملو ژبو، د دغې څانګې په نومونې او بېلابېلو اړخونو څېړنيز او هر اړخيز بحث شوی دی. پر آرياني ژبو د سم پوهېدلو لپاره به د دغې اثر ځينو برخو ته تم شو.

دا چې آرياني ژبو ته په لومړيو کې د ايراني اصطلاح کارول کېده او لوېديځوالو په خپلو څېړنو کې دغه ډله ژبې په ايراني ژبښاخ پورې اړوندې ګڼلې؛ خو په ۱۹۵۷م. کال په کابل کې ۲مخ

| لنډه کيسه |

عطاء الله حسن‌زى

## د انځرګل کلا

له ښار څخه لرې انځرګل لويه کلا وه، د دې کلا په يو کونج کې دوه کوټې ودانې وې او نور د مېوو ډول ډول بوټي او هر ډول ترکارى باب په کې کرلي وو، ټوله ورځ به انځرګل په دې لويه کلا کې کار کاوه، په دې لويه کلا کې يوه مږه هم وه چې انځرګل ترېنه سخت په تکليف و، ټوله ورځ به له ځان سره بونګېده او ښېراوې به يې کولې، آخير په دې سوچ کې شو چې له دې مږې نه څنګه ځان خلاص کړي.

له مږې سره په يوه کلا کې اوسېدل انځرګل ته ډېر سخت شو؛ مږې به د هر بوټي بېخ څخه خاوره رااېستله او انځرګل به هغه ځاى بيرته جوړاوه، په کلا کې داسې ځاى نه وو چې په هغه ځاى کې دى د مږې او د انځرګل تر منځ جګړه نه وى شوې.

په دې کار سره ډېر وخت تير شو، يوه ورځ انځرګل په ژور سوچ کې تللى و چې انارګل پرې غږ وکړو: اسلام عليکم انځرګله! انځرګل په داسې فکر کې ډوب و چې هيڅ يې نه وو اورېدلي.

انارګل پرى بيا غږ وکړو انځرګله ستړى مشې!

انځرګل ناڅاپه ټکان وخوړ له ځايه راپورته شو، ګورى چې اناګل ورته ولاړ دى، له څه فکر وروسته يې وويل انارګله ته او دلته!

- هو زه او دلته! څه ببړى دې اوبو ډوبه کړې ده چې په اسې سوچونو کې ډوب يې .

- وعليکم سلام انارګله په خير راغلې دلته راشه دې خواته مې کينه بيا به درته ووايم چې څه شوي دي.

- ګوره انځرګله ما مه ورخطاکوه څه درباندې شوي دي ژر راته ووايه؟

- يره انارګله څه به دې سره خوږوم، فکر مې ډېر زيات خراب دى، په دې کلا کې چې کوم بوټي وينې په دې بوټو کې يوه مږه پيدا شوې ده، ډېر ورسره په عذاب يم، ټوله ورځ دا سورنګان (سورى) وهي او زه يې بيرته پټوم، نور نو زه حيران پاتې يم چې له دې بلا څخه څنګه ځان خلاص کړم.

- ګوره انځرګله ډېر مه وارخطا کېږه، خداى مهربانه دى يوه لاره به ورته پيدا کړو.

- سمه ده څنګه لار به ورته پيدا کړو، چې له دې شر څخه خلاص شم.

- لنډه لار داده چې د مږو دارو راوړه او په وريجو کې ورته ګډ کړه او په ټولو سورو کې ورته کېږده، يوه نه يوه به ترينه وخوري او ته به ترېنه خلاص شې.

- نه داسې نشم کولاى؛ که داسې وکړم نو له ټولو چرګانو خلاصېږم بيا به د کور ماشومانو ته څه ځواب ورکوم، کومه بله لاره راته وښايه؟

- بله لاره دا ده چې ټولې کلا ته اوبه ورکړه تر څو چې کلا اوبه شي نو مږه به بهرته راووځې ته به يې مږه کړى دايې بله لاره ده.

- نه دا کار هم نه شم کولاى، ځکه چې شاوخوا ګاونډيانو ته مى ضرر رسېږي او يا به مې ديوالونه راولوېږي.

- ښه نو چې د مږو دارو نه شي اينبودى، کلا ته اوبه نه شى ورکولى نو داسې کار وکړه چې يو دانه پيشو پيدا کړه او په دې کلا کې يې خوشې کړه پيشو او مږه سره پوهېږي.

- يره انارګله دا دې زبردسته خبره وکړه ، ځم چې يوه پيشو را پيدا کړم چې له دې مږې سره حساب او کتاب وکړي.

انځرګل لاړ يوه پيشو يې راپيدا کړه او په کلا کې يې خوشې کړه او پيشو ته يى وويل: که دا مږه دى راته ونيوله زه به هره ورځ تاته غوښه درکوم او ښه به دې ساتم .

پيشو په مږې پسې ښې لوځى کړې، په کوم ځاى کې چې مږه تازه خاوره راوباسې پيشو ورته هلته کمين نيسي، پيشو ډېري هلې ځلى وکړې خو کومه ګټه يې و نه کړه.

يوه ورځ چې پيشو ډېر ستړى شوې وه، ويده وه، چې مږه بهرته راووته؛ ګوري چې د سر دښمن يې را پيدا شوى، ژر خپل سورنګ ته ننوته او په دې فکر کې شوه چې بايد څه وکړي چې د پيشو لاسته ور نه شي ګنې وبه يې خوري.

مږه لا په دې سوچونو کې ډوبه وه، چې انځرګل راغى او پيشو ته په قهر شو؛ پاڅه!! ما ته د خوبونو لپاره راوړې يې او که د مږې د نيولو لپاره؟ وګوره بيا يې تازه خاورې را اېستلي دي او ته دلته په ارام سره ويده يې.

پيشو هم په غوصه شوه، مږې چې په کوم ځاى کې تازه خاورې را اېستلي وې هغه ټول سوري يې په خپلو پنجو(منګولو) وکېندل خو کومه ګټه يې نه درلوده.

پيشو په مږې باندې غږ وکړ: اې مږې! زه ستا دښمن يم، نيسم دې، بيابه له تا سره هغه وخت ګورم چې څه کولاى شې.

مږې هم په پيشو باندې غږو وکړو او ورته وېې ويل: ډېرې چيغې مه وهه، ټول عالم دې را خبر کړو، يو وار مې ونيسه بيا غورېږه، آسمان چې څومره غورېږي؛ هومره نه اورېږي.

- که په ځان دومره باور لرې يو ځل د باندې راشه، بيا به سره ګورو چې آسمان څومره غورېږي هغومره اورېږي او کنه؟

- زه دلته يم راشه و مې نيسه چې ته ما څنګه نيسې.

پيشو په مږې پسې ټوله کلا وکتله خو مږه يې پيدا نه کړه، مږې ټوله کلا سورى ورى کړې وه، هرې خواته يې آزاد تګ و راتګ کولاى شو، پيشو بيچاره هسې د بوټو له شاوخوا څخه تاوېده را تاوېده او هيڅ يې هم له لاسه نه کېدل.

په دې کې ډېرې ورځې تېرې شوې وې، پيشو مږې ته غله وه او مږې به ځان له پيشو ساته او کوښښ به يې کاوه چې ل پيشو لرى واوسي.

انځرګل دې ته مجبور شو چې د انارګل له دوهم پلان څخه ګټه واخلي او همغه کار يې هم وکړو، کلا ته يې اوبه راخوشې کړې، کله چې کلا ټوله اوبو ونيوله نو ناڅاپه د کلا څلور واړه ديوالونه رانسکور شول په دې وخت کې انځرګل ناڅاپه ټوپونه شروع کړل، چې په دې سره يې په لاس د کړکېځ ښيښنه ولګېده کله چې له خوبه راويښ شو ګوري چې ديوالونه ولاړ دي، خو د کړکېځ ښيښنه ماته ده.

## آرياني ژبې...

د پښتو نړيواله څېړنغونډه جوړه شوې وه چې مشري يې ناروېژي ژبپوه مورګنسټرن کوله. د دغې غونډې برخوالو پرېکړه کړې وه چې اندو اروپايي ژبکورنۍ د آريک ژبښاخ د ژبو هغه څانګه چې لويديځوالو او اوس ايرانيانو د لويديځوالو په پليوني د ايراني ژبو په نوم ياده کړې، تر دې وروسته بايد افغاني څېړنو کې د (ايراني) اصطلاح پر ځاى (آرياني) اصطلاح وکارول شي او د دې اصطلاح د کارونې وړانديز هم يوازې افغاني پوهانو ته شوى و، ځکه ختيځپوهانو آن له نولسمې پېړۍ راهيسې دغو ژبو ته د ايراني ژبو اصطلاح کارولې ده.

په افغاني ژبنيو څېړنو کې د ايراني پر ځاى د آرياني اصطلاح کارولو دليل دا و چې په ۱۹۳۵ز کال د افغانانو لويديځو ګاونډيانو يعنې پارسيانو د خپل هېواد نوم له پارس څخه پر ايران واړاوه.

د پارسيانو دغه نوي هېواد او نومونې د دې سيمې په اړوندو ژبنيو څېړنو کې ډېرې ستونزې راپيدا کړې، ايراني ليکوال له دغې نومونې څخه د لوړتيا پالنې له مخې هماغه زړه معنا اخلي او غواړي د آريانا او آريايانو ټول ګډ ژبني، فرهنګي، تاريخي ميراثونه او وياړونه د ايران د نوم له خپلولو سره ځان ته ځانګړي کړي؛ نو د همدغه وران پوهاوي د مخنيوي لپاره دغه پرېکړه وشوه، که ايرانيان يې د خودخواهۍ او ځانغټاوۍ لپاره د بهرنيو پوهانو په څېر له کارونې ډډه کوي او يا يې کاروي، نو افغاني پوهان يې بايد ارو مرو وکاروي، ځکه د آريانا جغرافيوي بريدونو ته په کتو د اوسنې افغانستان ټولې سيمې؛ خو د اوسني ايران ډېرې لږې هغه هم له افغانستان او د پخواني خراسان له پولو سره ځينې نښتې سيمې د آريانا برخې وې. بله دا چې خلک به له ايرانيانو سره دا ومني چې د هخامنشيانو د دورې لرغونې پارسي ايراني ژبې وګڼي؛ خو دا به ګرانه وي چې د پخوانۍ آريانا نورې ژبې لکه پښتو، بلوڅي، کردي، پاميري او نورې ژبې له اوسني ايرانه لرې په جلا سيمو کې دود دي، ځانګړى حيثيت او هويت لري. ځکه زموږ ژبپوهان د ايراني پر ځاى د آرياني اصطلاح چې د دغو ژبو پخوانۍ علمي نوم دى وکاروله او د دې کورنۍ ټولې لرغونې، منځنۍ دورې او اوسنۍ ژبې په کې راځي. (٦: ۲۶۰ مخ)

اوسمهال آرياني ژبو ته د ايراني اصطلاح کارول تر ډېره بريده سمه نه ده او زموږ څېړونکي بايد په خپلو څېړنو کې دغې اصطلاح ته ډېره پاملرنه وکړي. د ايران له ټولې سياسي جغرافيه څخه يوازې فارسي په آرياني څانګه کې شامله ژبه ده؛ نو د دغې يوې ژبې لپاره نورې ټولې ژبې د ايران په اوسنۍ جغرافيه کې رااېسارول د دغو نورو ژبو( پښتو، بلوڅي، کردي او پاميري ژبې) په حق کې جفا کول دي. نو بهتره به دا وي چې دغه ډله ژبو ته د ايراني پر ځاى آرياني اصطلاح وکاروو.

آرياني ژبې په پراخه سيمه کې چې د جنوب له خوا د فارس خليج او عمان سيند، د لويديځ له خوا د بين النهرين او شمال له خوا د قفقاز غرونو او د مرکزي آسيا دښته محدودوي، ويل کېږي او په ختيځ کې دې ژبو، ټول افغانستان او د پامير د فلات ځينې برخې د اباسيند تر خولې پورې نيولې دي، آرياني ژبې په پورتنۍ محدوده کې خپرې دي.

آرياني ژبې د تکاملي پړاوونو او ګرامري جوړښت له پلوه کولاى شو په دريوو مهالي دورو ووېشو:

۱) لرغونې دوره( د ليکنې له پيل ۱۲۰۰ ق.م څخه تر ۳۳۱ ق.م پورې): په دې دوره کې پر اوستا او زړې پارسي سربېره ميدي ژبه هم وه. ميديان د مرکزي او لويديځ ايران اوسېدونکي وو او د ۸۲۵ ق.م کال وروسته د آشور پاچاهانو په ډبرليکونو کې ليدل شوي دي.

۲) د آرياني ژبو منځنۍ دوره( له ۳۳۱ق.م څخه د اسلام د مقدس دين تر خپرېدو پورې): په لويديځ کې آريانا د پارتي(پهلوي اشکاني)، منځنۍ فارسي(پهلوي ساساني) او په ختيځ کې د سغدي خوارزمي، باختري، ساکي، ختني، تمشقي او آلاتي شواهد لري.

۳) د معاصرو ژبو دوره (له اتمې او نهمې ميلادي پېړۍ څخه تر اوسه پورې): دا اوسنۍ آرياني ژبې او لهجې دي چې له قفقاز څخه د پامير تر فلات او له عمان څخه تر مرکزي آسيا پورې ويل کېږي.

اوسنۍ دوره بيا په څلورو ډلو وېشل شوې ده.
۱ـ جنوب لويديځه ډلګۍ: په دغه ډلګۍ کې تر ټولو مهمه ژبه زړه پارسي ده او درې لهجې لري. دري(افغانستان)، پارسي(ايران)، تاجيکي (تاجکستان) او يوه لهجه يې د تاتي به نامه په ازربايجان کې ويل کېږي. ۲ـ شمال لويديځه ډلګۍ: په دې ډله کې بلوڅي او کردي ژبې راځي. ۳ـ شمال ختيځه ډلګۍ: په دې ډله کې پښتو، پاميري او... ژبې راځي. ۴ـ جنوب ختيځه ډلګۍ: اورمړي او پراچي ژبې په کې شاملې دي.( ۵: ۸۷ مخ)

د لرغونې، منځنۍ او معاصرې دورې ژبې په دوو څانګو، لويديځه او ختيځه څانګه هم وېشل شوې دي، په آرياني ژبو د ښې پوهېدنې لپاره دغه وېشنه هم رااخلو: د آرياني څانګې په لويديځه ډلګۍ کې منځنۍ فارسي(پهلوي ساساني) او پهلوي اشکاني(پارتي) ژبې شاملې دي او ختيځه ډلګۍ يې سغدي، خوارزمي، باختري او آلاتي ژبې لري.

د ژبو د يوې وېشنې له مخې د نړۍ ژبې په دوو برخو وېشل کېږي. الف: ژوندۍ ژبې ب: مړې ژبې

د آرياني څانګې پر مړو او ژونديو ژبو پوهېدل هم اړين بريښي؛ خو تر پوهېدو دمخه مړې او ژوندۍ ژبې پېژنو: ژبه د انسانانو تر منځ د اړيکو ټينګولو تر ټولو غوره وسيله ګڼل شوې، تر هغه مهال چې يوه ژبه دغه بنسټيزه او مهمه ټولنيزه چاره ترسره کوي او د وګړو تر منځ د ټولنيزو اړيکو د ساتلو دنده ولري، نو ژبپوهنه او ژبپوهان دغه ډول ژبې ته ژوندۍ ژبه وايي او هغه ژبه چې د تاريخي پړاوونو په يوه پړاو کې د وګړو تر منځ د اړيکو ساتلو چاره ترسره نه شي کړاى، دغه ژبې د مړو ژبو په نامه يادېږي چې د تاريخي ژبپوهنې پر بنسټ بيا دا ژبه د يوې ژبکورنۍ لرغونې ژبه شمېرل کېږي.(٦: ۲۶۱ مخ)

په تاريخي ژبنيو څېړنو کې د لرغونو ژبو اصطلاح هم همدغه ډول ژبو ته کارېدلې او نن سبا په ډېرو ژبکورنيو کې دغه ډول مړو ژبو ته لرغونې ژبې وايي، نو د همدغه آر پر بنسټ ژبپوهانو د آرياني څانګې ژبې په دوو برخو وېشلې دي. الف: لرغونې آرياني (مړې) ژبې. ب: اوسنۍ(ژوندۍ) ژبې.

په لرغونو آرياني ژبو کې اوېستا، لرغونې پارسي، ساکي، ميدي، منځنۍ پارسي، پارتي (پهلوي، اشکاني) سغدي، خوارزمي، باختري او الاتي ژبې شاملې دي او ښايي پر دغو ژبو سربېره نورې ژبې هم وې، خو د څېړونکو او ژبپوهانو لاس ته نه دي ورغلې.(٦: ۲۶۳ مخ)

په ژونديو آرياني ژبو کې پښتو، اورمړي، پراچي، منجي، يدغه، واخي، شغني، روشاني، يزغلامي، برتنګي، سري قولي، سنګليچي، پراچي،اشکاشمي، زيباکي او اوسيتي ژبې شاملې دي. چې په دغو ټولو ژبو کې پښتو تر ټولو زيات ويونکي لري او ورپسې اوسيتي ژبه ده چې تر نيم ميليونه پورې وګړي پرې ګړېږي.(۵: ۸۰مخ)

**پايله:** آرياني ژبې د آريايانو د پښت هغه ډله ژبې دي چې له لرغونې آرياني ژبې څخه راوتلې دي، دغه ډله ژبې د لرغونې آريانا په لويديځو، مرکزي او شمالي برخو کې خپرې شوې دي چې د تاريخي پړاو له مخې يې لرغونې، منځنۍ او اوسنۍ دورې تېرې کړې دي.

آرياني ژبې چې د آريايانو له لومړني ټاټوبي بلخ(بخدي) او د هندوکش شاوخوا سيمو څخه سرچينه اخلي، په دوو برخو (ختيځو او لويديځو) آرياني ژبو وېشل کېږي. د دغې وېشنې له مخې اوستا، ساکي، باختري، سغدي، خوارزمي، سرمتي، آلاتي، پښتو، اورمړي، پراچي، اوسيتي، يزغلامي، واخي، اشکاشمي، يغنوبي او ځينې نورې ژبې د آرياني ژبو ختيځه ډلګۍ جوړوي، ميدي، لرغونې پارسي، پارتي، ساساني پهلوي، دري، تاجکي او پارسي د آرياني ژبو لويديځه ډلګۍ ده.

**مأخذونه:**


۱ـ آريانا دايرة المعارف( پښتو) لومړى ټوک، دوهمه دوره. د افغانستان د علومو اکاډمي د دايرة المعارف د مرکز رياست: نبراسکا مطبعه، کابل. ۱۳۸٦ ل. کال.

۲ـ دوست شينوارى، دوست محمد. د افغانستان ژبې او توکمونه، دويم چاپ. ګودر خپرندويه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۳ل کال.

۳ـ شينوارى، معروف شاه. د پښتو ژبې تاريخي تحول. کلاسيک خپرندويه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۹۷ ل کال.

۴ـ غوربندى، ميراجان. تاريخي مقايسوي ژبپوهنه، نويسا خپرندويه ټولنه: کابل،۱۳۹۷ل کال.

۵ـ غوربندى، ميراجان. تاريخي مقايسوي ژبپوهنه(د ماسترۍ دورې لکچر نوټ)، ۱۳۹۹ل کال.

٦ـ نيازى، رفيع الله. د اندو ـ اروپايي ژبو نَسبي څېړنه، د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست: کابل، ۱۳۹۸ل. کال.

## د ناګار شاعري؛ د اسلامي...

اقبال که د ازادۍ کومې ساندې کړې دي؛ استاد ناګار دغه ساندې نورې هم ښکلې کړې او ځلولې دي. مطلب دا چې که د حجاز ځمکه علامه اقبال د شعر د مضمون په توګه را اخيستې ده. استاد ناګار د همدې ځمکې څخه يو بل مضمون خپلو لوستونکو ته وړاندې کړی دی.

فرض کړئ يو باغ دی؛ د ځينو انسانانو ارواوې په خپلو وږمو تازه کوي او ځينې ترې د ذايقې خوند اخلي؛ مګر باغ يو دی. څوک منې ترې وړي او څوک بادام...

دغه اسلامي نظريه د همدې باغ حيثيت لري، چې علامه اقبال يو ډول مضامين ترې اخيستې دي او ښاغلي ناګار بل ډول مضامين په ډېره هنري بڼه ترې اخيستي دي. او دا چاره په تقليد او پيروۍ نه شي ور تپل کېدای؛ بلکې د دوی فکري اتحاد دي.

**داودي نغمو ته تاو مړ ژواندی ذوق کړه**
**په اذان د وخت بلاله په لمانځه کې**

(استاد ناګار)

**ستاد مقدر ستوري شغلې چې خپرېدې**
**له حبش څخه يې اوچت کړې او حجاز ته يې راوستې**

(۲۱:۱)

که چيرته يې روماني مضمون را اخيستی، نو دواړو په ډېره رمزي بڼه را ښکاره کړی دی:

**اذان شو د ازل نه ستا د مينې ترانه**
**د دغې ننداري لپاره لمونځ يوه بهانه**

(داقبال پيغام)

**د بنګړو په شرنګ سجده شوه سندريزه**
**موسيقي يې کړه حلاله په لمانځه کې**

(استاد ناګار)

او يا د هيواد په هکله يې دا مسره: ((په هېواد وژلي چا غوندې هېر نه کړې)) او د اسلامي تاريخ د دوو داسې شخصيتونو د وينې پيغام يې په دا مسره کې ولولئ: ((د کربلا خاورې دا لوی احسان دې هېر نه شي)) نو د يوه داسې فکري تمايل ته استاد ناګار د خپل شعر مضمون ګوښې کړی دی. د دا ډول تفکر درلودونکی په ختيځ کې له ناګار وړاندې( شاعر مشرقي) علامه اقبال و.

د استاد ناګار د شاعرۍ مطالعه د اسلامي تاريخ يو ځلاند شکل د لوستونکي تر سترګو دروي او دا ټوله، څه جذباتي او جمالياتي ننداره ده.

يعنې د مبارکۍ شعر، د حسين سره جبر، د سليمان او ابوذر ميړانه (چې خدای(ج) او رسول اکرم(ص)ته ډېر ګران و) په هنري ژبه وړاندې کوي. د حضرت علي پوهه او ميړانه او بله د صداقت خبره به دا سترګو ته در ودروي، چې د بيعت ټول تاريخ ورسره تړلی دی.

د استاد ناګار شاعرۍ د اسلامي تاريخ يو ډېر ستر باب را تشريح کړی دی. او دا تشريح دومره هنري ده، چې له تخيله يې بل څه نه شو ګڼلی. او علامه اقبال دا چاره په ناوېشلي هند کې کړې ده. نو له همدې کبله موږ استاد ناګار ته د پښتنو اقبال ويلی شو.

دوی دواړه د اندلس په ټاټوبي سخت فريادونه کوي او وايي چې دا د عربو او مسلمانانو خاوره ده. فرياد يې په دې دی چې نن د هغه ځايه مسلمانانو ته خطر جوړېږي. يعنې هغه ځای اوس د مسلمان انسان لپاره د خوښۍ زيری نه را وړي، بلکې د بربادۍ او د خطر زيری را وړي.

د اندلس په باب د شهرام رجت زاده د خبرې ژباړه ده: ((په لومړۍ هجري پېړۍ کې طارق په اسپانيا باندې لښکر کشي وکړه، نو د اندلس سواحلو نه چې تېر شو، ټولې کښتۍ يې وسېزلې، تر څو ملګري يې تښتې ته اړ نه شي. همدا وه چې ټوله اسپانيا يې تر خپل تصرف لاندې را وسته. ټولو تاريخ ليکوونکو د هسپانيه اسلامي دوره د (اندلس) په نوم ياده کړه.))(۱۰۶:۲

استاد ناګار په محرابي فتوا غزل کې (اندلس) د مسلمانانو د يوه مهم مرکز په توګه ياد کړی دی؛ ولې ارمان يې دا دی چې اندلس اوس په خاموشو اذانونو کې ژوند تېروي:

**بيا چې د اندلس ويده رګونو کې شي ساه د ژوند**
**ښکاري هغه وړانګې راته بيا په کوه طور يې**

يعنې په دويمه مسره کې يې يو څه طمع ليدل کيږي؛ دا چې کوه طور يو سېمبوليکي شاهد دی، نو د يوه سياسي رهبريت د غوښتنې يوه ناره ده. د اسلامي نظام جوړنونې يوه تمنا لري. پورتنی شعر د پخوانۍ تجربې نه په استفادې د يوه نوي اسلامي نظام د جوړښت، طرحه د لوستونکو سترګو ته دروي او دا چاره علامه اقبال داسې کړې ده:

**پټ په خاورو کې پراته ستا د سجدو دي نښانونه**
**ستا بادونه د سهر دي خاموشه اذانونه**

***

**دا ستا ځمکه د اوچته هم له ستورو د اسمانه**
**خو افسوس چې له پېړيو ستا فضا ده بې اذانه**

(۱: ۶۷)

د يوه مومن مسلمان په حيث دا ډول فريادونه د ټولو مومنانو ګډ دي. د علامه اقبال او ناګار دواړه د داسې صحنه سازۍ او يا د مضامينو هڅه لري؛ په دې توګه دوی د فکر په لحاظ يو ډول دي او د مضمون او طرز په لحاظ سره مختلف دي او کله - کله چې د علامه اقبال د شعر نه، استاد ناګار کوم الهام اخيستی، په يقيني توګه ډېر عالي او شاعرانه دی. تاسې د استاد ناګار د شعر دا مضمون وګورئ:

**دې فضا ډېر شاهينان خراج ته ګډ کړل**
**پسې الوزي زموږ د ملک خراړي**

يعنې پورتنۍ مسره دعلامه اقبال د شعر يو څرګند روايت( شاهين) لري. او دا روايت د باز يو الهامي کيفيت دی، چې حضرت خوشحال خان ته منسوب و. يعنې په شاعرۍ کې د کلمو ندرت په همدې کې دی، چې په خپلې فرضي معنا پاتې نه شي او دا کړنه پوره تخليقي بصيرت غواړي؛ نو مهمه خبره په شعر کې همدا ده چې پورتنی روايت څه ډول را وستل شوی دی. نو موږ بيا پوهېږو چې دا چاره تقليد نه، بلکې د رابطې مسئله ده او رابطه تر ډېره فکري وي. يعنې د دې شعر د وړاندې کولو طرز عالي او فطري دی؛ د معنا په لحاظ خيالي او منکشف دی؛ د مضمون په لحاظ چور انقلابي او افغان ولس ته په عظمت قايل دی او د افغاني ننګ ته علامه اقبال دا ور اشاره کړې ده:

**آسيا يک پيکر آب و ګل است**
**ملت افغان در ان پيکر دل است**

عجيبه خبره دا ده چې دغه مضمون علامه اقبال هم وړاندې کړی دی. او دا ټول مضمون يې په يوه نظم کې را وستی دی. مګر استاد ناګار دا ټول مضمون په يوه بيت کې ډېر عالي را وستی دی. چون علامه اقبال د زرکو او شاهينانو ذکر هم څه داسې کړی دی:

**غلام که شاهين شي د کوترو او د زرکو**
**د روح دغه دنيا به تن له نکړمه هلاکه**

(۱: ۸۶)

د سباوون مومند د وينا مفهوم د ناګار په پورتني بيت داسې ده: ((که اقبال زرکې له شاهينانو باج اخيستونکې بولي، نو دی بيا د خراړو په باب دغه رنګ انداز او نظر لري.)) (۳: سندريون، مخ: ط)

ولې کيفيت دا دی چې استاد ناګار په ډېره استادانه توګه د همدې تفکر درلودونکی دی او د دې بيت مضمون همدا دی چې زموږ د ملک خراړې دومره سرشارې دي چې شاهينان يې تېښتې ته اړ کړي دي.

استاد ناګار د شعر لوستل د ګوډ تيمور د هېواد(سمرقند او بخارا) تاريخي شاهدي، د هند او کشمير په سر تړلي رقابتونه، همدا ډول د منصور په باب ډېر نادره حقيقتونه به مو سترګو ته ودروي. د فلسطين، شام، يثرب، مکې او مدينې د تاريخي اسلامي شاليد ښکاره مضمون لري او دغه تذکر به يې په ډېره هنري ژبه وړاندې کړی وي. ځينې داسې تاريخي داستانو نه به هم مطالعه کاندئ، چې تر ډېره د پيغمبرانو(ع) قربانۍ او جذبې ته وقف شوي دي؛ د تاريخي افغانستان پاڅون د روس په مقابل کې او د مشرانو بې پتي به هم سترګو ته درته ودروي:

**په زلفو کړليچونو کې څرک څرک د ځلا مخ**
**په بلخ د روس څوکۍ وې جوړېدې او ورانېدې**

***

**د اټک، خيبر د ساندو سندر بوله**
**شاته وګوره ټوټې ټوټې ميوند دی**

***

**بغدادي کوترې سرې شولې ناګاره**
**زمزمه کړ چا اذان د کربلا**

***

**اقصی پسې د خير وي نيت يې نه وي د کعبې**
**استازي د يهودو مسلمان ته غاړې وځي**

***

**چې دې سرې جامې بدلې شولې ګله**
**اوس چې هر موسم کې راشې تېر دې خوند دی**

***

**پيرمه په سرونو بخارا او سمرقند**
**اې ترکو داسې نوی خرابات ته مې زړه شوی**

***

**د مومن په حيث مقام را نه ورک شوی**
**کله کله چې اختر کله برات شم**

***

**ترک وتاجک يې استقبال ته وړي د وينو ګلان**
**چې په امو د ابدالي کړه شمله وخته**

***

**راشه دا ځلې د زړه ميوند کړه فتح**
**چې سپېځلې ملالۍ يې سپينه سپينه**

(استادناګار)

څه عجيبه خبره دا ده چې د نجونو د زلفو او مخ په قالب کې د بلخ او روسي د ښکېلاک يو ناکام تصور به درته مخکې ودروي؛ نو داسې شاعري هم جمالي وي او هم انقلابي. دا شاعري يو ډول ذکر ګڼل کېدای شي؛ ځکه چې جمال هم سپېځلی دی، انقلاب ځکه مهم او د سنتو درلودونکی دی چې انسان بايد دايم د بدو په مقابل کې د ښو انقلاب را ولي.

**د ښکلا اخوا به څه وي بې الله**
**محبت لنډوي لاره د بقا**

(استاد ناګار)

دا ډول شاعري په ختيځ کې تر ټولو زياته علامه اقبال پاللې ده، خو د علامه اقبال وروسته دا خاصه څښتن تعالی په استاد ناګار لورولې ده. تاسې د علامه اقبال دا مضمونونه دناګار بيتونو سره پرتله کړئ:

**د خدای هغه مسلم سره کار نه شته**
**چې يې روح په خپل کالبوت کې بيدار نشته**
**ځکه ولاړم د يارانو له مکتبه**
**د خودۍ پکې يو ځوان څوکيدار نشته**

او د استاد ناګار دا مضمون:

**په دوهۍ اوس اړولې ناګار ځکه**
**د مزله ياران يې وخاته خپل چارې**

يا د علامه اقبال دا شعر:

**لکه ددو شمعو رڼا چې يو په بل کړي حلول**
**نشته په اسلام او سياست کې جدايي**

او د استاد ناګار دا بيت:

**د جومات او سياست لاره نړدې که**
**وروستنی حل تل محراب و ممبر بويه**

پورتني بيتونه ډېر فکري اتحاد لري. که د علامه اقبال دا مضمونونه وګورو، نو د پورتنيو بيتونو ورته مفکورې په کې نغښتل شوې دي:

**چې وځان ته مومن وايمه رپېږم**
**ګرانې چارې چې په زړه د لااله کړم**

(۱: ۱۰۴)

**پر ځمکه باندې اوسي ولې سيال د فرښتو دی**
**وطن يې نه کابل، نه بخارا، نه بدخشان دی**

(۱: ۸۳)

**که حق د يهودانو مسلم په فلسطين وي**
**نو دا په اندلس ولې حق نه شته د عربو**

***

**اقباله دا د کاڼو د تراشلو زمانه ده**
**په کار دي دښيښې رنګه د هر شي نه پرهيز**

***

**که قابل زه د علي د تورې نه يم**
**د علي د تورې غوندې تيز نظر را**

(۱: ۱۰۳)

د پورتنيو شعرونو له مضامينو ښکاري چې استاد ناګار په پښتنو کې د داسې فکر شاعري کړې ده، لکه څه ډول چې مرحوم اقبال کړې ده.

### اخځليکونه:


۱_ صميم، احمد. داقبال پيغام (د اقبال د څلورو ټولګو څخه د راحت زاخيلي، عبدالحليم اثر، سيد تسنيم الحق کاکاخيل، حمزه شينواري ژباړې، ټولونه او انتخاب)، صداقت خپروندويه ټولنه: کندهار، ۱۳۹۲ل کال.

۲_ رجب زاده، شهرام. ګزيده شعر های اقبال لاهوری، چاپ سوم، چاپخانه شفق: تهران، ۱۳۷۴ل کال.

۳_ ناګار، فضل ولي. د ناګار شاعري، نجيب الله نايل په زيار، ناګار خپرندويه ټولنه: ننګرهار، ۱۳۸۹ل کال.

۴_ شميسا، دکتر سيروس. نقد ادبي، انتشارات فردوس: تهران، ۱۳۸۴ل کال.


## د دردونو شاعره...

**هغه کېږي چې الله ته وي منظوره**
**تدبيرونه که هرڅو بنده کوي**
**دعا هم د بد نصيبو نه قبلېږي**
**که هر څو خدای ته ځولۍ څوک غوړوي**

(۲: ۱۲۲مخ)

د بېګم درد اشعار درد، سوز او ګداز لري، له دردونو او احساساتو ډک دي چې خلک يې فکر هم نه شي کولای، که څوک د دې شعرونه ولولي، نو بې اختياره يې له سترګو نه اوښکې بهېږي او زړه يې درد کوي، لکه چې وايي:

**خدايه! ما خو ازغي نه وو تانه غوښتي**
**چې د ګل په ځای ازغو مې لاس سوری کړ**
**زه په پټه ژړا کړم د خپل تقديره**
**درده تا مې زړه ځيګر سوری سوری کړ**

(۲: ۱۰۳مخ)

درد غزلې هم ويلې، د دې په غزلو کې ساده توب، رواني، سوز، درد او د غم انځورونه ډېر ليدل کېږي.

د دې د غزلو يوه ځانګړنه داده چې د غم، درد او رنځ ترجماني په داسې موزونو الفاظو کې وړاندې کوي چې لوستونکي او اورېدونکي يې بيا داسې فکر کوي چې دا د هغه چا د زړه آواز دی چې د غم او درد څخه تک شين دی. د شاعرۍ په اړه له خولې څخه د غمونو او دردونو تور لوګي باسي او داسې سرټکوي.

**د شاعر د ژوند قصه ده مختصره**
**ځان کړي ستړی چاټوي پردي غمونه**
**دا به وي د چا د زړه ترجماني**
**د شاعر خو صرف وي خوش بياني**
**په ژړا زما د سترګو نظر کم شو**
**بس دی نور د درد اشعار ليکلی نشم**
**ای قلمه! درد دې مانه زړه کې زيات دی**
**تورې وينې دې بهېږی د دهانه**

(۲: ۸۷مخ)

د الفت بېګم شعرونه په فکري او فني لحاظ ډېر ښکلي، ساده او خوندور دي چې لوستونکي او اورېدونکي ژر پرې پوهېږي او خوند ترې اخلي، درد په مينه او محبت کې هم ماته خوړلې، يو چا دردولې او ژړولې ده. له ډېره درده داسې فرياد کوي:

**د مات زړه غږ به مې وران د دنيا کور کړي**
**که يو ځل مې د زړه پورته کړل لاسونه**

په لنډو ټکو ويلای شو چې د الفت بېګم درد شعرونه او غزلې په ساده الفاظو کې ډېر لوړ او پوره مفهوم لرونکې دي او په فکری لحاظ هم ډېر اوچت شعرونه دي، د دې په غزلو کې سربېره په دې چې کلاسيک رنګ ډېر ليدل کېږي، ولې د نويو شعرونو رنګ هم د دې په شعرونو کې تر سترګو کېږي چې د غم ځپلي زړونو ترجماني کوي او د دردېدلي زړونو آواز هم دی.

دا دردېدلې شاعره له ارمانونو او حسرتونو سره يو ځای په ۱۹۷۷م کال، د ډسمبر د مياشتې په نهمه نېټه له ژونديو نه لاره ببله کړه او په ابدي خوب ويده شوه. يو غزل يې د بېلګې په توګه را اخلو:

**شبنم ژاړي سوچ کوي د باغ انجام ته**
**ګل نسکور دی بلبل کاندي فريادونه**
**نن د اوښکو رنګ مې بل-بل شانتې ښکاري**
**د زخمي زړه مې جوړه وشلېدل ټکونه**
**د رڼا دعا په شپو کې مې غوښتله**
**تقدير کړه توره وريځ زر بارانونه**
**ستا يادونه ډېر رنګين دي خو دلبره**
**ډېر يې هم کړ د ناتوان زړګي دردونه**
**چې دې نوم اخلمه درد را اوچت کېږي**
**بې اختياره مې د سترګو ځي رودونه**

(۲: ۱۶۹مخ)

### مأخذونه:


۱ـ هنګامه، ظاهره. ((د الفت بېګم درد شاعري د ليکوالو په نظر کې))، کابل مجله، ( ۱ـ۳مه) ګڼه، ۱۳۸۷ل.

۲ـ رضاء، افضل. پنځه شمعې، پښتو اکاډمي: پېښور، ۲۰۰۶م.

# زېرى

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي - څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د ۱۳۹۹ ل.کال وږي(سنبلې) مياشت | ۱۱-۱۲مه ګڼه | پرله پسې ۳۵۵-۳۵٦مه ګڼه

د کتونکې ډلې تر نظر لاندې
مسؤل مدير: څېړندوی احسان الحق
مهتمم: څېړنيار ياسرپاچا
د يوې ګڼې بيه: پنځه افغانۍ

د اړيکو شمېرې: ۰۷۴۴۴۸۷۳۳۵
۰۷۰۴۹۸٦۰۳۳
برېښناليک: zerai1316@gmail.com
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار
کابل—افغانستان

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز خپرنيز ارګان

- په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پر غاړه دی.


## د فرهنګي او ادبي خبرونو پېښليک



څېړنوال محمد آصف احمدزی

### «د پښتو ادبي فنونو کره‌کتنه او ارزونه»

د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو بين المللي مرکز علمي غړي څېړنوال دوکتور عبدالظاهر شکيب په ۲/ ٦/ ۱۳۹۹ نېټه له خپلې علمي- څېړنيزې رسالې «د پښتو ادبي فنونو کره کتنه او ارزونه» څخه د څېړنپوه علمي رتبې ته د ترفيع په موخه په برياليتوب دفاع وکړه.



ياده پروژه پر سريزې سربېره په پنځو څپرکو کې څېړل شوې چې په پای کې د څېړنې پايله او وړانديزونه هم لري.
په ټوله کې په ياده پروژه کې د ادبي فنونو په درېوو څانګو (بديع، بيان او قافيه) هر اړخيزه څېړنه او کره کتنه شوې ده.

### «د پښتو د منظومو ادبياتو په پرمختيايي بهير کې د ښځو ونډه»

د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز علمي غړي څېړندويې ملکې مشترۍ په ۳/ ٦/ ۱۳۹۹ نېټه له خپلې علمي- څېړنيزې رسالې «د پښتو د منظومو ادبياتو په پرمختيايي بهير کې د ښځو ونډه» څخه په برياليتوب دفاع کړه.



په دغې پروژه کې د لرغونې، منځنۍ او معاصرې دورې په منظومو ادبياتو کې د ښځو پر رول او ونډې بحث او څېړنه شوې ده.

### په لومړي ځل په کابل کې د پشه‌يي ژبې ملي ورځ ونمانځل شوه

د ولسمشر محمد اشرف غني له حکم او منظورۍ وروسته د لومړي ځل لپاره په کابل کې د پشه يي ژبې ملي ورځ د وږي په ۳مه ونمانځل شوه.



د ولسمشر د حکم د منظورۍ پر اساس د جوزا ۲۵مه د پشه‌يي ژبې ورځ نومول شوې او په رسمي ډول به په کليزه کې درج شي.
ياد مراسم چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په تالار کې جوړ شوي وو.
سرچينه: https://www.pajhwok.com/ps/2020/08/25/

### د سلطان منظومې په فرهنګي او تاريخي ارزښت خبرې وشوې

د لوګر ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست د ادبي او فکري ناستو په لړ کې دا ځل د سلطان سيد احمد کبير په اسطوره يي کيسه باندې چې څېړنوال عبدالغفور ليوال په منظوم ډول ليکلې، د لوګريو فرهنګيانو له خوا پرې خبرې اترې وشوې.
غونډه د لوګر ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ په رياست کې د وږي په ۱۰مه جوړه شوې وه.



ويناوالو د سلطان منظومه عرفاني تاريخي حماسه وګڼله.
په ايران کې د افغانستان سفير عبدالغفور لېوال چې د سلطان اسطوره يي منظومه کړې ده، وويل: که په نورو هېوادونو کې دا ډول عرفاني تاريخي حماسه واى، هغوى به ډېره ګټه ترې اخيستې وه او د عوايدو په ډېره ښه سرچينه به يې بدله کړې وه. د ده په خبره، دا اسطوره عرفاني ارزښت لري او پيغام يې مينه دى او انسان ته ښيي چې انساني کرامت ته کار وکړي.
سرچينه: د «لوګر اطلاعاتو او فرهنګ رياست»فېسبوک پاڼه.

### فولکلوري ادبيات د تاريخ او ملت پېژندنې سند دی

په علمي او ټولنيزو چارو کې د ولسمشر ستر سلاکار ډاکټر لعل پاچا ازمون په مشرۍ د پکتيکا ولايت مرکز ښرنې ته د بېلابېلو پوهنتونونو د ځينو استادانو، محصلينو او فرهنګيانو په ملتيا سفر ترسره شو.
د دغه سفر پر لومړۍ ورځ (د وږي ۱۱مه) د پکتيکا پوهنتون کې د "فولکلوري ادبيات د ژوند سرچينه او



لويه پانګه" تر سرليک لاندې علمي او معلوماتي سيمينار او بحثونه وړاندې شول.
د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني د سکايپ له لارې په ويډيويي بڼه د سيمينار ګډونوالو ته د



فولکلور او ولسي ادب پر ارزښت خبرې وکړې.
ولسمشر وويل: ازمون پاچا د دې برخې متخصص دی او له محصلينو يې وغوښتل چې د ده او نورو استادانو له علمي پانګو استفاده وکړي.
د ده په ټکو، فولکلوري ادبيات زموږ د تاريخ او ملت پېژندنې سند دی.
د ولسمشر غني په وينا، د افغاني کلتور او فولکلور پېژندنې لوړ مأخذونه ولس، د دوی څلي، نرخونه، تيره او هغه بنسټونه دي چې ولس پرې راټولېږي او دا يواځې د دوی د ذهن او تجربو زېرنده دي.
پکتيکا د تاريخ يو لوی فصل دی. ګومل د سلطان محمود غزنوي د لښکرو لاره وه چې په افغاني فولکلور کې يې څرګنده يادونه شوې ده. د پکتيکا ولسونه، قومي مخور او محصلين دې دغه پانګه راټوله او وڅېړي. دا زموږ د تاريخ عظيمه برخه ده.
ولسمشر زياته کړه چې دغه پانګه د ژبې د بډاينې لپاره ارزښتمنه ده. ژبه د هويت او وحدت سمبول، د تمدن نښه او د همغږۍ وسيله ده، ژبه همدغو ارزښتونو ساتلې او پاللې ده. همدارنګه يې د پکتيکا پوهنتون استادانو او محصلينو ته په خطاب کې وويل: «د دغې عظيمې برخې راټولول پر تاسو او خپرول يې پر ما.»
ده وويل: کلونه وړاندې يوه مستشرق ډارمسسټېر دغه عظيمه برخه را ټوله او خپره کړه، په دې کتاب کې چې د پښتونخوا شعر هار و بهار نومېږي، د افغان- انګليس د دويم جنګ ادبي سندونه خوندي دي، خو له بده مرغه د لومړي جنګ يو ادبي سند هم چا را ټول نه کړ، نو اړينه ده چې تاسې دغه برخه را ټوله او خوندي کړئ .
په علمي او ټولنيزو چارو کې د ولسمشر ستر سلاکار او د کابل پوهنتون استاد پوهاند ډاکټر ازمون پر فولکلوري ادبياتو د بحث پر مهال پر پکتيکا، فولکلوري ادبياتو، د فولکلور پر ارزښت، د راټولولو پر څرنګوالي او نورو اړخونو مهمې او هر اړخيزې خبرې وکړې او له محصلينو يې وغوښتل چې په خپلو مونوګرافونو کې تر ډېره فولکلوري موضوعات انتخاب کړي، تر څو له دې لارې زموږ دا لويه او اصيله پانګه راټوله او خوندي شي.
د بحثونو او سيمينار په دويمه ورځ د ياد ولايت د پوهنتون په ټولګيو کې پر له پسې بحثونه وشول. محصلينو خپلې پوښتنې مطرح کړې او د فولکلور ټولولو لارې چارې ورته وړاندې شوې.
سرچينه: «د علمي او ټولنيزو چارو مشاوريت»فېسبوک پاڼه

### کونړ کې د پنځو کتابونو مخکتنه وشوه

د کونړ د اطلاعاتو او فرهنګ رياست په هڅو او د سرحدونو او قبايلو چارو رياست په همکارۍ د وږي په ۱۲مه نېټه په کونړ کې د پنځو شاعرانو او ليکوالانو د کتابونو مخکتنه وشوه.



په نويو چاپ شويو کې [کاڼي(نواب ريحان)، د پسرلي غوندې يې ــ ادبي ټوټې (جاويد افغان قاسمي)، لکه زهر(ضياءالله اياز)، ژوند په ناتارونو کې (مطيع الله فرياد) او خلک دې ما نه ستايي (خليل پردېس)] کتابونه شامل وو.
د مخکتنې په پای کې مشاعره هم وشوه.
سرچينه: «کونړ اطلاعات او فرهنګ رياست»فېسبوک پاڼه.

### شاعره حميرا نکهت دستګيرزاده مړه شوه

د هېواد مشهوره شاعره حميرا نکهت دستګيرزاده د ۱۳۹۹ل کال د وږي په ۱۴مه نېټه (د ۲۰۲۰م کال د سپتمبر ۴مه) د سرطان ناروغۍ له امله په ٦۰ کلنۍ په عمر هالنډ کې وفات شوه.



د هغې ځينې آثار دا دي: شط آبی رهايی، غزل غريب غربت، به دور آتش و دريغ، آفتاب آواره، تلخ در آتش، از سپيده لبريز، پرواره های پندار، از پوست تا پوستر.

### پروفيسور پروېز مهجور خويشکی وفات شو

د پښتو ژبې مشهور ليکوال، شاعر او څېړونکی ډاکټر پروېز مهجور خويشکی د ناروغۍ له امله د ۱۳۹۹ل کال د وږي په ۱٦مه (د ۲۰۲۰م کال د سپتمبر ٦مه) د يکشنبې په سهار د ٦۸ کلنۍ په عمر له دې نړۍ سترګې پټې کړې.



د هغه جنازه د وږي په ۱٦مه مازيګر څلور بجې د نوښار په بره خويشکو مېره کې ادا شوه او هملته په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شوه.
ډاکټر مهجور د نوښار د خويشکو کلي اوسېدونکی و چې په پښتو او اردو ژبو کې يې په پېښور پوهنتون کې ماسټري او بيا يې د "ارزاني خويشکي" پر شاعرۍ پي ايچ ډي کړې وه.
ده په پيل کې شاعري کوله، خو بيا يې وروسته خپله ټوله پاملرنه د څېړنې او په ځانګړي ډول د تصوف په اړه د څېړنې خواته واړوله چې تر اوسه يې په لسګونو مقالې ليکلې او چاپ شوې دي.
خويشکي په ۱۹۸۸م کال کې د پېښور په پښتو اکاډمۍ کې د څېړونکي په توګه دنده پيل کړې وه؛ څوارلس کاله يې په اکاډمۍ کې د څېړونکي په توګه بېلابېل خدمتونه کړي او تر شلو زيات د پي ايچ ډي او ايم فل شاګردان يې روزلي دي.
د مهجور خويشکي په چاپ کتابونو کې "د ښادمحمد ديوان"، "د پښتو ژبه" [له ډاکټر خيال بخاري سره مشترک کتاب]، "د علي محمد مخلص د ديوان تدوين، تحقيق او تصحيح"، "د ارزاني خويشکي کليات: پي ايچ ډي مقاله"، "د ميرزا خان انصاري ديوان: تحقيق او تصحيح"، "رحمان فن اور شخصيت" اردو کتاب او ځينې نور دي.
ډاکټر مهجور په ۱۹٦۹م کال کې د "پښتو ادبي ټولنه خويشکي" جوړه کړې وه او د دې تر څنګ يې په "ارزاني ادبي جرګه" کې هم ادبي فعاليتونه کړي وو.
سرچينه: https://www.voadeewanews.com/a/5572607.html

### د پښتو ژبې د ليکدود د يووالي په اړه غونډه

د پښتو ژبې د ليکدود د يووالي په اړه غونډه د ۱۳۹۹هـ. ش کال د وږي مياشتې په ۱٦مه او ۱۷مه د افغانستان په علومو اکاډمي کې ترسره شوه.



په دې علمي غونډه کې د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت علمي غړو، د پښتو څېړنو بين المللي مرکز علمي غړو، د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون او کابل پوهنتون استادانو او ځينو نورو څانګوالو برخه اخيستې وه.



په دې دوه ورځنۍ غونډه کې چې د تېرو څو غونډو په دوام ترسره شوه، په کې د پښتو ژبې د ليکدود د يووالي په اړه بحثونه وشول او په پايله کې په دې اړه اړينې پرېکړې وشوې.
بايد يادونه وکړو چې ځينې پوهان په انلاين ډول په غونډه کې موجود وو.

### د نورستان پر شفاهي ادبيات او اسطورو بحث

د نورستان په مرکز پارون کې د شفاهي ادبياتو او اسطورو تر سرليک لاندې بحث او علمي غونډه د وږي په ۲۰مه نېټه تر سره شوه.



په دغه غونډه کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ عمومي رئيس څېړنپوه دوکتور عبدالظاهر شکيب، په علمي او ټولنيزو چارو کې د ولسمشر سلاکار پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون، په فرهنګي چارو کې د ولسمشر سلاکار محمد زرين انځور، د ننګرهار پوهنتون پخوانی رئيس پوهنوال ببرک مياخېل ، د علومو اکاډمۍ، کابل او ننګرهار پوهنتونونو ځينو استادانو او فرهنګيانو ګډون وکړ.
په غونډه کې لومړی د نورستان والي ډاکټر عبدالغفور ملکزي خبرې وکړې، د پلاوي هرکلی يې وکړ او نورستان ولايت ته يې د ولسمشر د ځانګړې پاملرنې يادونه وکړه. ورپسې څېړنپوه دکتور عبدالظاهر شکيب د نورستان په تاريخ، فرهنګ اساطيرو او فولکلور او د فولکلور په ارزښت خبرې وکړې، ژمنه يې وکړه چې د علومو اکاډمي به په دې اړه پروګرامونه طرح کړي، چې د هېواد د دې تاريخي برخې مواد را ټول، وڅېړي او تر نړيوالو يې ورسوي.
پوهاند ازمون هم د نورستان دودونه، اساطير او د فولکلور په اړه مفصلې خبرې وکړې او نورستانيان يې د فولکلور ټولولو او د فولکلور ټولوونکو سره مرستې ته وهڅول او تر څنګ يې د فولکلوري اثارو د چاپ ژمنه هم وکړه.
د غونډې په پای کې د نورستان د ولايتي شورا رئيس او ځينو مخورو په ترتيب سره خبرې وکړې او له راغلي پلاوي يې مننه وکړه او د نورستان ځينې افسانوي او اساطيري کيسې يې د غونډې پر ګډونوالو واورولې.

### د ادبياتو دنيا

«د ادبياتو دنيا» اثر مخکتنه د وږي مياشتې پر ۲۰مه نېټه د سهار په لسو بجو د افغانستان د علومو اکاډمي د علامه کهزاد د سيمينارونو په تالار کې وشوه.



دغه اثر چې د استاد اسدالله غضنفر او استاد نجيب الله منلي د ادبي موضوعاتو مرکې او بحثونه دي، په دې وروستيو وختونو کې خپور شوی دی.
د همدغه اثر د مخکتنې په غونډه کې د علومو اکاډمي علمي غړو، د پوهنتونونو استادانو، فرهنګيانو، ليکوالو، شاعرانو او محصلينو برخه اخيستې وه.

### د سعدالدين شپون د درېيم تلين په مناسبت يادغونډه وشوه

بلخ ادبي خوځښت د وږي په ۲۱مه، د مومند بابا ادبي بهير اونيزه ناسته د سعدالدين شپون يادغونډې ته ځانګړې کړې وه چې د اروابناد په تړاو د ويناوو تر څنګ په کې مشاعره هم وشوه.



سرچينه: د « Balkh Literary Movementبلخ ادبي خوځښت» فېسبوک پاڼه.

### د ( امن ږغ) په نوم مشاعره جوړه شوه

د ارزګان ولايت د اطلاعات او فرهنګ رياست له لوري د (امن ږغ) په نوم مشاعره د وږي په ۲٦مه، ماښام مهال جوړه شوه چې ګڼو ليکوالو، شاعرانو او ادب مينه‌والو برخه په کې اخيستې وه.



شاعرانو په خپلو شعرونو کې جګړه وغندله؛ د سولې او امن راتګ يې په خپلو بيتونو بدرګه کړ.
سرچينه: »د روزګان اطلاعات او فرهنګ رياست «فېسبوک پاڼه.

### د (پښتو لهجوي قاموس) د موادو راټولولو لپاره ساحوي څېړنه

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز علمي غړو د (پښتو لهجوي قاموس) د موادو راټولولو لپاره بادغيس، غور، سرپل، سمنګان، دايکنډي، باميان، نورستان او بدخشان ولايتونو ته د روان ۱۳۹۹هـ. ش کال د وږي مياشتې په وروستيو ورځو کې سفر وکړ او د همدې سيمو د ځينو قبيلو لهجې ثبت او راټولې کړې.



د لهجو دغه مواد په نږدې راتلونکي کې د يوه قاموس په بڼه چاپيږي.
تر دې وړاندې د هېواد په نورو ولايتونو کې د ځينو پښتنې قبيلو لهجې راټولې او په کتابي بڼه چاپ او خپرې کړې دي چې تر اوسه پورې د لهجوي قاموس شپږ ټوکونه چاپ شوي دي.

### د داتا ګنج بخش د کتابخانې پښتو مخطوطات

(تحقيقي او تنقيدي جايزه)

پورته سرليک د دوکتورا ډيزرټېشن د افغانستان د علومو اکاډمي علمي غړي څېړندوی عبدالرحمن حبيب‌زوی له خوا د وږي مياشتې په ۲۱مه نېټه په پېښور پوهنتون کې دفاع شو.

